مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې اتمه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۲۸مه | ۵۰٤مه گڼه

# د جگړې له شدت اندېښنې؛

## طالبانو په غزني کې د امریکایي استخباراتي مامورینو الوتکه په نښه کړې ده




۳

### طالبانو د الوتکې ضد وسلې تر لاسه کړې دي؟

۲ مخ

### د امریکا- طالبانو خبرې او پر وړاندې یې شته خنډونه

۲ مخ

### کرونا څه ډول ویروس دی؟

۵ مخ

## امریکا تېر کال پر افغان خاوره له اوو زرو ډېر بمونه غورځولي

د امریکا هوایي ځواک د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې امریکایي ځواکونو تېر کال پر افغان خاوره ۷۴۲۳ بمونه غورځولي دي.

د خپرې شوې خبرپاڼې له مخې، دا په تېرو څو کلونو کې پر افغان خاوره د غورځول شویو بمونو تر ټولو لوړه شمېره ده. د دغه راپور پر بنسټ، دغو شمېرو ته په کتو په ورځني ډول د امریکا د هوایي ځواکونو له لوري پر افغان خاوره ۲۱ بمونه غورځول شوي دي.

د یادونې ده چې د امریکا هوایي ځواکونو په ورم ۲۰۱۸ میلادي کال کې پر افغان خاوره ۷۳۶۲ بمونه غورځولي وو. که څه هم په دغو بریدونو کې تر ټولو ډېر ملکي وګړي اغېزمن شوي، خو امریکایي ځواکونو دا بریدونه د ترهګرو د له منځه وړلو په برخه کې کارنده بللي دي.

د یادونې ده کله چې امریکا په ۲۰۱۴ میلادي کال کې اعلان وکړ چې نور یې په افغانستان کې جګړه ییز ماموریت پای ته رسېدلی، له هغې وروسته یې په افغانستان کې د ځمکنیو عملیاتو پر ځای هوایي بریدونه ډېر کړي، چې په زرګونو بې ګناه افغانانو ته یې مرګ ژوبله اوښتې ده. په ورته وخت کې د بشري حقونو ځینو مدافعو بنسټونو هم په افغانستان کې د روانو هوایي بریدونو په تړاو چې تر ډېره یې ملکیان په نښه شوي، اندېښنې څرګندنې کړې او د جګړې پر ښکېلو لورو یې غږ کړی چې د دوی د ژوند خوندیتوب ته دې جدي پام وکړي.

د منظور پښتین په نیول کېدو نړیوال غبرګونونه؛


## پاکستان دې ژر تر ژره منظور پښتین بېرته خوشې کړي



۲ مخ


څېره
۴ مخ

## جین استین



د جین استین لیکنې د دوو پېړیو په تېرېدو لا هم د نړۍ په تر ټولو ډېرو لوستل شوو او مشهورو اثارو کې راځي. لا هم لوستونکي لري، څېړنې ورباندې کېږي، نقدونه ورباندې روان دي او بالاخره ویلی شو چې د هغه پر اثارو بحثونه تر اوسه پای نه لري.

## کرنې ریاست: په لغمان کې دوه د اوبو سربندونه او کانالونه جوړېږي



د لغمان د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکو ویلي چې د «PMS» موسسې په همکارۍ د دغه ولایت ځینې سربندونه او کانالونه جوړېږي.

د دغه ولایت د چارواکو په خبره، د جوړېدونکو سربندونو او کانالونو له ډلې د زېړانیو سربند او کانال او د نهر کریم سربند او کانال د جوړولو په پار لومړنۍ سروې شوې او د رغولو چارې به یې ډېر ژر پیل شي.

دوی ویلي چې د زېړانیو د سربند کانال ۲۲ کیلومتره اوږدوالی لري، چې په جوړېدو سره به یې یو زر او ۹۰۰ هکتاره نوې کرنیزې ځمکې د خړوبولو تر پوښښ لاندې راشي او دغه راز د نهرکریم سربند او کانال به دوه زره هکتاره نوې کرنیزې ځمکې خړوبې کړي. د لغمان د کرنې ریاست چارواکو دغه راز زیاته کړې چې یاد سربندونه او کانالونه په پاخه او اساسي ډول جوړېږي، چې په جوړېدو سره به یې زرګونه جریبه نوې کرنیزې ځمکې خړوبې او زرګونه کورنۍ به ورڅخه هر اړخیزه ګټه پورته کړي.

## افغانستان ۳۵ مین عضو ائتلاف جهانی حمایت از آزادی رسانه‌ها شد



مقامات افغان می گویند که افغانستان ۳۵ مین عضو ائتلاف جهانی حمایت از آزادی رسانه‌ها شد.

در همین حال ضیا بومیا، معاون کمیسیون مشترک حکومت و رسانه‌ها می‌گوید که مسئولان برخی اداره‌های دولتی با اطلاعات برخورد پولیسی می کنند.

حکومت افغانستان دیروز سند ائتلاف جهانی حمایت از آزادی رسانه‌ها را در کابل امضا کرد.

محمد سرور دانش، معاون دوم ریاست جمهوری هنگام امضای سند این ائتلاف گفت که آنان متعهد به عملی کردن مواد این سند هستند.

به گفتهٔ آقای دانش، با آن که تلاش‌های زیادی در راستای تأمین آزادی بیان و فعالیت رسانه‌ها صورت گرفته است، اما هنوز هم مشکلات زیادی فرا راه رسانه‌ها و خبرنگاران وجود دارد.

آقای دانش به جنگ و ناامنی‌ها، خشونت در برابر خبرنگاران و عدم دسترسی خبرنگاران به اطلاعات به‌عنوان برخی از این مشکلات یاد کرد. معاون دوم رئیس جمهور با این وجود تأکید کرد که آزادی بیان به‌عنوان یک خط سرخ حکومت در گفت‌وگوهای صلح خواهد بود.

او افزود: «ما بارها گفتیم که آزادی بیان حتا در روند صلح یک خط سرخ است و مردم افغانستان به هیچ عنوان حاضر نیستند که این دستاورد بزرگ مورد معامله قرار گیرد.»

آقای دانش گفت: «قرار است که کمیسیون مشترک حکومت و رسانه‌ها به یک کمیسیون دایمی مبدل شود و مقررهٔ صلاحیت‌های آن در کابینه تصویب شود.»

Aksos Book Stote
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
Aksos Book Store
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
0798-98-9696, 0202504652

## دریـــځ

### طالبانو د الوتکې ضد وسلې تر لاسه کړې دي؟

پرون د غزني د ده یک ولسوالۍ په سدوخېلو کلي کې یوه الوتکه را وغورځېده او پکې سپاره کسان ووژل شول. لومړی ویل کېدل چې الوتکه مسافر وړونکې او د افغانستان د یو هوایي شرکت ده، خو وروسته دا خبره رد شوه. طالبانو ادعا کړې چې الوتکه د امریکایانو ده او استخباراتي ماموریت یې لاره. طالب ویاند ذبیح الله مجاهد وایي، په الوتکه کې یې د سي ای اې لوړ پوړي افسران وژلي دي. نوموړي دغه راز ویلي چې په وروستیو کې د امریکا او حکومت ګڼې نظامي چورلکې یې ویشتلې دي. وروستي معلومات وايي چې الوتکه د امریکایي پوځ اړوند ده چې د جاسوسي فعالیتونو لپاره کارول کېږي.

په تېره شاوخوا یوه میاشت کې څلور- پنځه چورلکې ویشتل شوې دي. په فراه، هلمند، پکتیا، پکتیکا او بلخ کې طالبانو د دې چورلکو د ویشتلو ادعاوې کړې دي، خو دفاع وزارت ویلي چې تخنیکي ستونزې د الوتکې د لوېدو سبب شوې دي. له پرونۍ پېښې وروسته چې طالبانو یې مسوولیت اخیستی، اوس دا بحث مهم او جدي ښکاري چې ښایي طالبانو د الوتکې ضد وسلې تر لاسه کړې وي. په هلمند کې په وروستۍ پېښه کې الوتکه نږدې له لس – دوولس کیلومتره لرې فاصلې څخه ویشتل شوې ده. آن داسې هم ویل کېږي چې طالبانو په دې پېښه کې رهبري کېدونکی توغندی کارولی دی. اوس په پرېکنده ډول د دې خبرې کول سخت دي چې طالبانو د الوتکې ضد وسلې تر لاسه کړې، خو وروستۍ پېښې ښیي چې دا ادعاوې پیاوړې کوي چې طالبانو د الوتکې ضد وسلې تر لاسه کړې دي.

اوس مهم بحث دا دی چې طالبانو ته دا وسلې چا ورکړې او د دې بدلون اغېز به پر سوله او جګړه څه وي؟

که طالبانو دا وسلې تر لاسه کړې وي، نو لومړنۍ ادعا به دا وي چې دا وسلې ایران ورکړې، خو د روسیې او چین پر احتمالاتو هم بحث کېدلی شي. که څو نورې داسې پېښې تکرار شي او ثابته شي چې طالبانو داسې وسلې تر لاسه کړې دي، نو دا به پر جګړه او سوله دواړو ژور اغېز وکړي. په اوسنۍ جګړه کې د طالبانو د پرمختګ پر وړاندې اساسي خنډ او د توازن ساتنې لامل همدا هوايي ځواک دی. که طالبانو د امریکا او حکومت هوايي ځواک ونړاوه او داسې پېښې تکرار شوې، نو طالبان به په جګړه کې لوی پرمختګ وکړي. په جګړه کې برلاسي په سوله کې هم د برلاسي په مانا ده. که طالبانو دا وسلې تر لاسه کړې وي، نو له شک پرته افغان حکومت او امریکا له یو ناوړه حالت سره مخ کوي. امریکا به په جدیت او سرعت سره له طالبانو سره د سیاسي جوړجاړي د وروستي کېدو هڅه وکړي، ځکه چې په جګړه کې د طالبانو برلاسي به د هغوی غوښتنې او شرطونه زیات کړي. له همدې امله به امریکا هڅه وکړي، چې له طالبانو سره ژر سیاسي جوړجاړی وکړي.

اوس لا وختي دي چې ووایو د افغانستان خلک به په جګړه او سوله کې ژر دا بدلون محسوس کړي، خو که طالبانو ته د الوتکې ضد وسلو د رسېدو ادعاوې ثابتې شي، نو له شک پرته په سوله او جګړه دواړو کې به ژور بدلونونه محسوس شي.

# د امریکا- طالبانو خبرې او پر وړاندې یې شته خنډونه

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په مشرۍ د پلاوي او د طالبانو استازو له لوري له تېر یوه کال راهیسې یوولس څله مخامخ خبرې تر سر شوې دي.

دا ناستې په داسې حال کې چې د دوی تر منځ د یوې هوکړې د لاسلیک کېدو خبره په دې وروستیو کې ډېره توده شوې، تر اوسه په دې برخه کې چې ایا دا نوې موافقه ده او که هغه مخکېنۍ ته ورته ده، چې نږدې وه د تېر کال په سپټمبر کې د دواړو لورو تر منځ لاسلیک شي، څه نه دي ویل شوي.

په دې تحلیل کې مو د امریکایي استازو او طالبانو تر منځ مخامخ خبرو ته ځغلنده کتنه کړې، د ټرمپ له ټوېټ وروسته پیل شوو خبرو ته کتنه، په موافقه کې څه دي او ایا که چېرې دا توافق تر سره کېږي، دا به رښتیا هم په افغانستان کې د تل پاتې سولې سبب شي؟ دې او دېته ورته پوښتنو ته مو دلته د ځواب ویلو هڅې کړې دي.

**د امریکا – طالبانو مخامخ خبرو ته ځغلنده کتنه**

د ۲۰۱۸ ز کال د سپټمبر په ۴مه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت رسماً اعلان وکړ، چې په افغانستان او عراق کې د امریکا پخوانی سفیر یې د افغان سولې لپاره خپل استازی وټاکه. زلمی خلیلزاد د ۲۰۱۸ ز کال د اکتوبر میاشتې په ۱۲مه د قطر په دوحه کې له طالبانو سره مخامخ (لومړی پړاو) خبرې پیل کړې، تر اوسه پورې د امریکایانو او طالبانو تر منځ یوولس ځله مخامخ ناستې تر سره شوې دي، د نهم پړاو خبرو په لړ کې د توافق‌نامې امضاء کېدو ته دواړه لوري نږدې شوي وو، خو په افغانستان کې د امریکایي سرتېري په وژل کېدو سره د امریکا جمهور رییس ټرمپ په یوه ټوېټ سره چې ګواه کې زموږ سرتېری د طالبانو په برید کې وژل شوی، موږ له طالبانو سره خبرې نه کوو، خبرې د لنډې مودې لپاره بندې شوې.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د روان لمریز کال (۱۳۹۸) د قوس میاشتې په ۷مه نېټه په یوه ناڅاپي سفر افغانستان ته راغی، د یاد سفر پر مهال یې وویل چې له طالبانو سره د سولې خبرې پیلوي او په وینا یې، دی پر دې باوري دی چې دغه ډله اوس اوربند غواړي.

او د دویم ځل خبرو له پیل سره تر اوسه پورې دوه پړاوه ناستې تر سره شوې دي، داسې ښکاري چې دوی یوه نسبي توافق ته سره نږدې شوي وو او د تخنیکي کارونو په اړه د ملګرو ملتونو له استازو او په افغان سوله کې دخیل هېوادونو سره خبرې هم شوې وې.

**هغه موارد چې توافق پرې شوی**

داسې انګېرل کېږي چې د امریکا او طالبانو له سختو اوږدو مخامخ خبرو یوې هوکړې رسېدو ته سره نږدې شوي، چې په پایله کې به یې په افغانستان کې روانه اوږده جګړه ورسره ختمه شي.

بارنټ روبین له ازادي راډیو سره په مرکه کې او د نړیوالو ستراتېژیکو مطالعاتو په انسټېټیوټ کې خبرې کولې، روبین له څلورو لسیزو راهیسې د افغانستان او پاکستان سیاسي حالات او په یادو هېوادونو کې د امریکا بهرني سیاست بېلابېل اړخونه څاري.

بارنټ روبین پر دې باور دی چې سره له دې چې په هېڅ ځای کې د سولې د بهیرونو د بریالیتوب ضمانت مخکې له مخکې نه شي کېدلای، خو په قطر کې د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو لپاره په توافق کې ځینې مهمې مسئلې شاملې دي. ښاغلي روبین وویل: «د توافق تر لاسلیک وروسته، په لومړۍ ورځ طالبان مؤظف دي چې له القاعدې سره خپل ارتباط به بشپړ ډول پرې کړي او د داعش پر ضد وجنګېږي، له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو لړۍ پیلېږي، د تشدد اندازه کمېږي او د افغانستان له حکومت سره خبرې په لومړیو ۱۰ ورځو کې پیلېږي.»

دغه امریکایي کارپوه وویل چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او طالبانو د سیاسي دفتر تر منځ د موافقې د لاسلیک په ۱۰ ورځو کې د ناروې په پلازمېنه اوسلو کې بین‌الافغاني خبرې پیلېږي. د بارنټ روبین په خبره، د امریکا او طالبانو په موافقه‌لیک کې منل شوې چې تر لاسلیک وروسته به په ۱۳۵ ورځو کې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو شمېر ۸۶۰۰ ته راکمېږي.

خو د افغانستان د تحلیلګرانو شبکې غړی توماس روتیګ بیا وایي، چې پر دې باندې باید موږ وپوهېږو چې یاده توافق‌نامه د افغانستان لپاره نه ده. هغه وایي: «امریکا او طالبان په دوو یا دریو مسئلو موافقه کوي، هغه هم ځانګړې مسئلې لکه دا چې طالبان تضمین ورکړي چې له تروریزم سره ارتباط پرې کوي، له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش وټاکل شي او ښایي د تشدد کمول شامل وي. طالبانو واضح ویلي چې پر اوربند خبرې نه کوي. البته دا موافقه هم څارنې او تضمین ته اړتیا لري.»

**طالبانو پر موقتي تاوتریخوالي هوکړه کړې**

طالبانو له امریکا سره توافق ته د رسېدو په موخه، دا ومنله چې له ۷ څخه تر ۱۰ ورځو پورې به په لویو ښارونو کې تاوتریخوالی کموي، خو دا کړنه د دوی د افغان حکومت او د ښځنې نړیوال سازمان له تُندو غبرګونونو سره مل وه، خو امریکایي چارواکو په دې اړه تر اوسه کوم غبرګون نه دی ښودلی او نه هم د ښاغلي خلیلزاد دفتر او یا هغه په خپله په دې اړه څه ویلي دي.

د ښاغلي غني ویاند صدیق صدیقي په خپل ټویټر کې لیکلي وو: «د افغانستان د خلکو لپاره د تاوتریخوالي د کمولو مسئله بېخي یوه ګونګه مسئله ده، دا په دې مانا ده چې د ورځې به لس بریدونه نه کېږي، پنځه به کېږي او یا لس کسان به نه وژل کېږي، پنځه به وژل کېږي؟ موږ په افغانستان کې د تاوتریخوالي ختمول غواړو.»

په همدې حال کې د ښځنې نړیوال سازمان په یوه اعلامیه کې د "تاوتریخوالي کمول" یوه بې مانا خبره بللې ده. د جنوبي اسیا لپاره د دغه سازمان مسوول عمر ورایچ وویل: «په هغو جګړو کې چې پر ملکیانو په کې بریدونه کېږي، د تاوتریخوالي د کمولو اصطلاح بې مانا ده.»

**د امریکا- طالبانو خبرې بیا ځل له خنډ سره مخ کېدای شي؟**

طالبان او امریکایان په لسم پړاو خبرو کې نهایي پرېکړې ته نږدې شوي وو او دواړو لوریو ویلي وو، چې د روان میلادي کال د جنوري میاشتې تر پایه به نهایي پرېکړې ته ورسېږي، خو په اوس کې په یوه تازه راپور کې چې اسوشیټېډ پرس د طالبانو د رسمي وېب پاڼې په حواله لیکلي وایي، چې دوی نور د امریکایي لوري له غوښتنو په تنګ راغلي او دوی هسې وخت ضایع کوي، دا چې امریکایي لوری ولې په خپلو پرېکړو کې تغیر راولي؟ د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ملا برادر اخوند له پرنټ لاین یا (PBS) په نوم له یوې ټلویزیوني شبکې سره مرکه کړې وه. هلته ده ویلي: «امریکا لویه تېروتنه کړې چې پر افغانستان یې برید کړی، موږ هغه وخت جګړه ختموو، چې کله ټول امریکایان افغانستان پرېږدي او بل موږ له افغانانو سره مشکل نه لرو، موږ له هغو سره هوکړې ته رسېږو او بل موږ په افغانستان کې هغه نظام پلې کړو چې موږ ته یې په اړه شریعت لارښوونه کړې. د ده دا خبرې او د سویس په داووس ښار کې د اقتصاد په نړیواله غونډه کې د جمهور رییس محمد اشرف غني خبرې، چې طالبان یې د جګړې په دوام او په افغانستان کې د سولې راتلو پر وړاندې خنډ یاد کړل او همدارنګه د سولې او جګړې د انسټېټیوټ له خوا تر سره شوې سروې په مطبوعاتي غونډه کې د دولت ساز ټیم لومړي معاون امرالله صالح وویل: «په دوحه کې د امریکایانو او طالبانو تر منځ خبرې ښایي د امریکا او طالبانو تر منځ جګړه ختمه کړي، خو دا هېڅ امکان نه لري چې په دوحه کې د طالبانو خبرې د طالبانو او د افغانستان د ملت تر منځ جګړه ختمه کړي.» او بل د سولې وزارت په نوم اداري مشر سلام رحیمي د روسیې له سفیر سره په لیدنه کې د افغان سولې په اړه د نړیوالې اجماع د جوړېدو په پار د روسیې او د سیمې د هېوادونو په رول تاکید وکړ، ده زیاته کړه چې یاده اجماع د افغانستان د جمهور رییس محمد اشرف غني په رهبرۍ جوړېدونکې ده. د قطر د سیاسي دفتر د مشر خبرې او د ملي یووالي حکومت د مشرانو له لوري د جګړې په ژبه خبرې کول او امریکا چې هر ځل د خبرو پای ته په رسېدو سره په خپل تصمیم کې بدلون راولي، ممکن د امریکا په حکومت کې د هغو ډلو کار وي، چې د ملي یووالي حکومت د مشرانو تر شا ولاړ دي او بل په سیمه کې ورځ تر بلې تغیرېدونکې وضعیت (ایران– امریکا تر منځ کړکېچ) به دېته زمینه مساعده کړي، چې د طالبانو او امریکا خبرې تر نامعلومې مودې پورې وغځېږي.

**پایله**

د افغان سولې په اړه د امریکا او طالبانو خبرې او بین الافغاني خبرو شروع کېدو په موخه که څه هم د افغان حکومت او طالبانو په نظرونو کې ډېر توپیر شته، همدارنګه دا دویم ځل دی چې امریکایان د خبرو له مېز څخه تېښتې کوي، خو په اوس کې اړتیا ده چې په افغانستان کې د څلوېښت کلن ناورین د ختم په پار، دخیل اړخونه ډېر څه (شخصي ګټې) له لاسه ورکړي.

افغانان د شوروي اتحاد له وتلو وروسته، د رامنځ ته شوي وضعیت یوه ښه تجربه لري، نو دوی له هغې تجربې څخه په استفادې سره کولای شي چې له اوسني وضعیت څخه ښه ګټه پورته کړي او د راتلونکې لپاره په افغانستان کې د یوه تلپاتې نظام د رامنځ ته کولو پر څرنګوالي باندې کار وکړي او ښکېل افغان اړخونه داسې مسوولانه چلند وکړي، چې د هېواد او ملت په خیر وي.

په افغانستان کې یوې تل پاتې سولې ته د رسېدو په خاطر اړتیا ده، چې طالبان له امریکا سره یوې هوکړې ته ورسېږي، خو ګورو چې نهایي پرېکړې ته له رسېدو سره دا دویم ځل دی چې د امریکایي لوري په تصمیم کې تغیر راځي، نو پکار ده چې ملګري ملتونه، د سیمې او نړۍ غښتلي هېوادونه (چین، روسیه، جرمني، برېټانیا او ترکیه) له امریکا وغواړي چې په افغانستان کې د پیل کړې جګړې یو لوری یې افغانان او دا سیمه دلته نور جګړه نه غواړي، نو پکار ده چې له طالبانو سره ژر تر ژره یوې هوکړې ته ورسېږي، څو بین الافغاني خبرو ته زمینه مساعده شي.

د منظور پښتین په نیول کېدو نړیوال غبرګونونه؛

## پاکستان دې ژر تر ژره منظور پښتین بېرته خوشي کړي



د ښځنې نړیوال سازمان د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور پښتین د ژر تر ژره او بې قید او شرطه خوشې کېدو غوښتنه کړې ده.

دغه سازمان ویلي، منظور پښتین د بیان ازادۍ له حقه دفاع کوله او بې دلیله نیول شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور پښتین ورمه شپه په پېښور کې له خپلو ملګرو سره یوځای له کوره پاکستاني پولیسو بیولی دی.

په ورته وخت کې د پښتون ژغورنې غورځنګ د پاکستان پوځ پر ټول وژنې او سلیقوي چلند تورن کړی او ویلي یې دي چې دغه پوځ په زرګونو پښتانه وژلي او ډېر نور یې لادرکه کړي دي.

پښتین دغه راز د پاکستان پر پوځ او طالبانو نیوکې کولې او څو ځله یې د پاکستان د پوځ د کړنو پر ضد پراخ اعتراضونه رهبري کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د امریکا په ګډون، ډېرو هېوادونو د پاکستان پر حکومت نیوکې کړې چې د ترهګرو ملاتړ کوي، خو د پښتون ژغورنې غورځنګ لومړنی ځایي حرکت دی چې د پاکستان پر حکومت تُندې نیوکې کوي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم د یاد غورځنګ مشهور مشران محسن داوړ او علي وزیر هم د پاکستاني پوځ له لوري نیول شوي وو چې تر یوې مودې بند وروسته بېرته ازاد شول.

# په افغانستان کې د ایران ګټې او اندېښنې

لیکنه: صفت الله الفت- استرالیا مېشتی سیاسي کارپوه

افغانستان او ایران په تېرو څلورو لسیزو کې د ګاونډیو په توګه د دوامداره ښو اړیکو پاللو فرصت نه دی موندلی، دواړو هېوادونو د پرمختګ لپاره فرصتونه لرل، خو له شته فرصتونو سره کاپي ننګوني هم نغښتې دي. په ایران کې د افغانستان په اړه دوه ډوله نظر شته. ځینې یې خپل مهم ګاونډی بولي او ځینې بیا د افغانستان جوړېدل یوه تاریخي پېښه ګڼي. دا هم جوته ده چې افغانستان په سیمه کې د ایران د نفوذ په ساحه کې مهم ځای لري. که تېرو ۱۸ کلونوته پام وکړو، نو ایران په افغانستان کې د هرات ولایت لپاره د پرمختیایي پروژو او نورو برخو کې ځانګړې پاملرنه کړې. ایران په افغانستان کې د شیعه مذهب لارویانو سره د هرې ډلې له خوا چې وي، د ناسم چلند په اړه اندېښنه لري او دا اندېښنه به په راتلونکي کې هم وي. د افغانستان په اړه د ایران پالیسي پېچلې ده او کله وینا یو څه، خو عمل بل څه وي. په افغانستان کې د ایران ښکېلتیا په ډېرو برخو کې د همکارۍ او مرستې بڼه لري، خو بیا هم کله ناکله له ځینو نارسمي لارو او چینلونو په افغانستان کې خپل اهداف تعقیبوي.

**امنیتي اندېښنې او تګلاره**

د ایران د بهرنۍ پالیسۍ یو هدف له افغانستان سره پر څه دپاسه زر کیلومتر ګډه پوله د امنیت ټینګښت دی. ایراني تګلاره جوړوونکي په افغانستان کې د امریکا او نړیوالې ټولنې په موجودیت کې خپل فعالیتونه د پراخو ستراتیژیکو سیاستونو او شرایطو پر اساس تنظیموي. ایران په خپل لوېدیځ ګاونډي عراق کې د امریکا د سرتېرو موجودیت او په ختیځ ګاونډي افغانستان کې د امریکا او نړیوالې ټولنې شتون او انګیزې د شک په سترګه ویني. ایرانیان داسې انګېري چې ګواکې امریکا غواړي په منځنۍ آسیا، خلیج او سویلي آسیا کې ستراتیژیک موجودیت ولري، چې ایران دا کار خپل ملي امنیت ته یو ګواښ بولي. نو طبیعي ده چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو په موجودیت خوښ نه دي.

ایران نه غواړي چې له امریکا سره په افغانستان کې په مستقیمه نظامي توګه ځان مخامخ کړي، نو ځکه د طالبانو یو څه ځواکمنېدل غواړي، خو ښایي طالبان په سیاسي ډګر کې د یوه ځواکمن ګوند په توګه ونه شي زغملی. ایران منې چې له طالبانو سره په تماس کې دی او هلته د طالبانو د پلاویو د سفرونو خبرونه هم مخې ته راغلي. ایران د افغان لانجې لپاره سیاسي حللاره غوره بولي، په دې لړ کې په دې وروستیو کې د طالبانو یو پلاوی ایران ته ورغلی و چې د افغان حکومت غبرګون یې هم وپاراوه. په سوله ییزه توګه د افغان کشالې پر حل ټینګار سره سره نړیوال بیا هم ایران ته د شک په سترګه ګوري او ګومان کوي چې ګواکې په افغانستان کې د وضعیت خرابولو لپاره خپلې ډلې ټپلې پالي. ایران تر ډېره په افغانستان کې د نرم ځواک پالیسي خپله کړې او اوږدمهال کې یې اغېزمنه بولي.

**د ایران- امریکا لانجې په هکله د عمران خان خبرداری**

خو دا اندېښنه شته که چېرې پر ایران د امریکا بندیزونه د اوږدې مودې لپاره دوام وکړي، نو شونې ده چې ایران په افغانستان کې د امریکا پر وړاندې خپله تګلاره تر یوه بریده بدله کړي. په افغانستان کې د ایران د لاسوهنو او د استخباراتي فعالیتونو د پراخېدو اندېښنو لا وار له مخه زور اخیستی. څه موده وړاندې کله چې طالبانو پر فراه سخت بریدونه وکړل، د هغه مهال افغان دفاع وزیر پر ایران تور ولګاوه چې د دې بریدونو تر شا لاس لري.

ایران په سیستان، بلوچستان او خراسان ولایتونو کې د ثبات او امنیت د ساتنې لپاره اندېښنه لري او د اوبو د سرچینو له کمښت سره مخ دی او تکیه یې د افغانستان په اوبو ده.

**اقتصادي ګټې**

ایران د سوداګرۍ لپاره افغانستان مهم هېواد ګڼي او غواړي له دې لارې له ځینو نورو هیوادونو سره سیاسي او سوداګریزي اړیکې ولري. هند او افغانستان د ایران چابهار بندر د خپلې منځنۍ سوداګرۍ لپاره کاروي.

د ایران بل اقتصادي هدف افغانستان او نورو ختیځو هیوادونو ته د تیلو او غازو صادرات او د دغو هېوادونو بازارونو ته لاسرسی دی. ایران په کور د ننه سیاسي خوځښتونو او د امریکا د بندیزونو له امله له اقتصادي ستونزو سره مخ دی او داسې ښکاري چې د امریکا له خوا به فشار نور هم زیات شي.

ایران همدا راز له پاکستان، هندوستان، چین او ترکیې سره په افغانستان کې د خپلو توکو لپاره د بازارموندنې په برخه کې پر سیالۍ بوخت دی. ایران په افغانستان کې شاوخوا دوه زره خصوصي شرکتونه لري چې زیات یې په هرات کې د تجارتي اموالو په وارداتو او صادراتو کې بوخت دي. ایران او هند د چابهار بندر په رامنځ ته کولو غواړي چې د پاکستان له ګوادر بندر سره چې د چین په مرسته جوړ شوی، سیالي وکړي.

**د مخدره توکو قاچاق او افغان کډوال**

په ایران کې د افغان کډوالو استوګنه هم دغه هېواد ته د اندېښنې وړ ده او کله نا کله یې د فشار د وسیلې په توګه کارولې. په ایران کې څه دپاسه یو میلیون افغانان اوسېږي، خو د پاکستان په پرتله چې له دې د زیاتو افغان کډوالو کوربه دی، د پام وړ مرستې نه کېږي.

# د جګړې له شدت اندېښنې؛

## طالبانو په غزني کې د امریکایي استخباراتي مامورینو الوتکه په نښه کړې ده




په هلمند کې د طالبانو له لوري د یوې الوتکې تر نسکورېدو وروسته، تازه طالبانو په غزني کې د امریکایي ځواکونو یوه الوتکه په نښه کړې ده. وسله والو طالبانو ویلي چې په دغه الوتکه کې د امریکا د استخباراتي ادارې د جګړې د پلان او ارتباطاتو د برخې کارکوونکي روان وو، چې دوی په نښه کړه. الوتکه په غزني کې نسکوره شوې ده، افغان حکومت هم پېښه تایید کړې، خو وایي چې دغه الوتکه په یوه خصوصي شرکت پورې اړه لري. امریکایي رسنۍ مني چې الوتکه په پوځ پورې اړه لري، خو امریکایي چارواکو په رسمي توګه په دې اړه څه نه دي ویلي. تازه د افغانستان د سولې خبرې مهم پړاو ته رسېدلې دي، خو د جګړې ډګر یو ځل بیا تود شوی دی او داسې پېښې روانې دي چې ښايي د سولې په لار کې خنډ شي. وسله والو طالبانو څو ورځې وړاندې په هلمند ولایت کې د افغان پوځ یوه قرار دادي چورلکه په نښه کړه. اوس یې تازه په غزني کې د امریکا د مرکزي استخباراتو د ادارې یا (CIA) د کسانو یوه الوتکه په نښه کړې ده. طالبانو دغه راز ادعا کړې چې په ځینو نورو ولایتونو کې یې هم ډېرې الوتکې په نښه کړې دي.

وسله والو طالبانو تېره ورځ ناوخته داسې انځورونه او ویډیوګانې خپرې کړې، چې پکې یوه لوېدلې الوتکه ښکاري. امریکایي رسنۍ وایي، په غزني کې پرېوتې الوتکه د امریکا د هوايي ځواک د جګړې د ډګر د اړیکو د ډلې (۱۱A BACN-E) اړوند ده. د سرچینې په خبره، د الوتکې نښان، سریال نمبر او نور جزیات ښیي، دا د هوايي ځواک د یادې برخې مربوطه الوتکه ده، چې ښایي د کندهار او کابل تر منځ یې الوتنه درلوده. په لومړي سر کې افغان ځواکونو ټینګار کاوه، چې دا به مسافر وړونکې الوتکه وي، خو وروسته یې وویل، دا د امریکایي پوځ قراردادي الوتکه ده. د غزني ځایي چارواکي تاییدوي چې الوتکه لوېدلې ده، خو وایي، د پېښې سیمې ته یې پلاوی لېږلی دی او ډېر ژر به جزیات له رسنیو سره شریک کړي.

بلخوا وسله والو طالبانو بیا د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې دا الوتکه دوی په نښه کړې ده. د دې ډلېویاند ذبیح الله مجاهد وایي، په الوتکه کې د امریکا د مرکزي استخباراتو د ادارې کارکوونکي سپاره وو او د جګړې د ډګرونو په اړه یې استخباراتي معلومات ټولول. د ده په خبره، الوتکه دوی په نښه کړې ده او په پېښه کې یې ډېر امریکایي استخباراتي مامورین هم وژلي دي. په اعلامیه کې راځي: «په غزني کې د امریکایي اشغالګرو یوه الوتکه رانسکوره شوه، ډېر لوړ رتبه افسران په کې ووژل شول. له غرمې وروسته د غزني ولایت د ده یک ولسوالۍ په سدوخېلو سیمه کې د امریکایي اشغالګرو هغه ځانګړې الوتکه را نسکوره شوه، چې د استخباراتي ماموریت لپاره یې په سیمه کې پرواز کاوه.»

طالبان وایي چې په دې پېښه کې یې ډېر استخباراتي مامورین وژلي دي، خو په اړه یې نور جزیات نه دي ورکړي. دوی همدا راز په ځینو نورو ولایتونو کې هم د ځینو الوتکو د غورځولو ادعا کړې ده. مجاهد زیاته کړې: «په وروستیو کې په هلمند، بلخ او ځینو نورو ولایتونو کې ځینې الوتکې او هلیکوپټرې زموږ له خوا را نسکورې شوې دي».

افغان حکومت تر اوسه په رسمي توګه د طالبانو د ادعا په اړه څه نه دي ویلي او نه هم امریکایي چارواکو په دې اړه غبرګون ښودلی دی. په رسنیو کې بیا شنونکو او د چارو پوهانو دغه ډول پېښې د خطر زنګ بللی دی. د دوی په خبره، که د الوتکو په نښه کول پیلېږي، د جګړې ډګر تودېږي، د سولې خبرې پایلې ته نه رسېږي، نو دا هر څه د افغانستان د راتلونکې لپاره د خطر زنګ دی او په دې مانا دی چې جګړې به شدیدې شي.

# چینايي چارواکي: د کرونا ویروس په دغه هېواد کې په چټکۍ د پراخېدو په حال کې دی



د چین حکومت ویلي چې په دغه هېواد کې د کرونا ویروس په چټکۍ د پراخېدو په حال کې دی او د مخنیوي چارې یې له سختۍ سره مخ شوې دي.

چینايي چارواکو ویلي چې د کرونا ویروس چټکې پراختیا اندېښمن کړي او ښايي پر دې ویروس د اخته کسانو شمېر لا پسې زیات شي.

دا په داسې حال کې ده چې د راپورونو له مخې، تر اوسه ۲۷۰۰ کسان په چین کې پر دې ویروس اخته شوي چې له ډلې یې ۸۰ کسانو ساه ورکړې ده.

د چین د روغتیا وزیر ما شائووې ویلي چې هېواد یې د دغه ویروس له کبله یوې حساسې مرحلې ته داخلېږي او داسې ښکاري چې د کرونا ویروس پراختیا په زیاتېدو ده.

هغه زیاته کړې: «موجوده اسبابو ته په کتو، د دغه ویروس خورېدل په چټکۍ سره کېږي، دې مسئلې د مخنیوي چارې له ننګونو سره مخ کړې دي، متخصصینو ویلي چې موږ د دغه ویروس په خاطر په یوه کړکېچن او پېچلي حالت کې یو.»

شائووې زیاته کړې چې د تګ راتګ بندیزونه او نور اقدامات باید په چټکۍ او کم مصرف سره د دغه ویروس د خورېدو د مخنیوي لپاره تر سره شي.

د چین د روغتیا وزیر دا څرګندونې داسې مهال کوي چې د روغتیا د نړیوال سازمان مشر تدروس ادهانوم له چینايي چارواکو او روغتیايي کارپوهانو سره د خبرو لپاره بیجېنګ ته تللی دی. په ورته وخت کې په بېلابېلو هېوادونو کې د دغه ویروس د مخنیوي لپاره لارې چارې سنجول شوې دي.

د راپورونو له مخې، تر دې مهاله یوازې په چین کې پر دې ناروغۍ اخته کسان مړه شوي، خو په تایلنډ، استرالیا، امریکا، کاناډا او فرانسه کې یې هم ځینې مثبتې پېښې ثبت او ناروغان یې قرنطین شوي دي.

د یادونې ده چې کرونا ویروس شاوخوا یوه میاشت مخکې د چین له پلازمېنې بیجېنګ سلګونه کیلومتره لرې په ووهان ښار کې پیدا شوی دی. دغه ښار ته پر تګ راتګ باندې بندیز لګول شوی او ښاروال یې ویلي چې په ووهان کې شاوخوا دوه زره کسان پر دغه ویروس اخته شوي دي. امریکا، فرانسې او جاپان له دغه ښاره د خپلو اتباعو د ایستلو لپاره هڅې پیل کړې دي.

په ورته وخت کې د چین ولسمشر شي جین پېنګ وړمه ورځ وویل چې هېواد یې د کرونا ویروس په خاطر له یوه کړکېچن حالت سره مخ دی.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◉ لیکوال: جان مکسویل
◉ ژباړن: میراحمد یاد

### دا قانون ولې زرین دی؟




دوی یو بل نوښت هم وکړ چې جیم د خلکو د ودې عنصر باله. د دې نوښت هسته کاري قوې ته ژمنتیا وه. جیم ویلي:((د دې شرکت د رهبر په توگه مو وویل چې موږ به په دې شرکت کې نور ترخې، تنظیمي او امرانه رهبرۍ ته اجازه ور نه کړو. څوک چې داسې وي موږ به یې اصلاح کړو، البته که اصلاح غواړي او که نه یې غواړي، نو ورته وبه وایو چې بل ځای ته لاړ شئ.
دا به د کار لپاره خوندي ځای وي. کارکوونکي به نه پکې ځورول کېږي. یوازې د خولې خبره به نه وي چې په خوله یوه کوي او په زړه بله. یانې په خوله به ښې ښې خبرې کوي؛ خو بیا به بېرته خپل دفتر ته ستنېږي او همغه زړو ملا زړې تراوې به وي. زه په زیاتره غونډو کې ولاړ شوی یم او ویلې مې دي: زه تاسو ته پر دې ژمنه یو سپین چیک لیکم او غواړم چې تاسو یې رانغد کړئ؛ خو که دا چیک جعلي وخوت، نو بیا چې زه تاسو ته کومه خبره کوم، تاسو پرې باور مه کوئ.))
که موږ په دې شرکت کې یو قانون ولرو، نو هغه به زرین قانون وي، که مو پر دې یوه قانون سم عمل وکړ، د نورو اصولو او قوانینو اړتیا به نه وي ـ ١٦ جیم بلانچارډ
په بدو رهبرانو د ورځې لمر ډېر زر لوېږي. موږ په تېرو شپږ، اتو کلو کې داسې ډېر ولیدل چې راغلل او لاړل، ځکه دوی له خلکو سره د سم او دروند چلن پر اصولو برابر ژوند نه کاوه. موږ دا شرکت پر دې اصولو لوړ کړ چې ومو ویل: که موږ په دې شرکت کې یو قانون ولرو، نو هغه به زرین قانون وي، که مو پر دې یوه قانون سم عمل وکړ، د نورو اصولو او قوانینو اړتیا به نه وي.)) ١٧
زیاتره خلکو ته زرین قانون په کاروبار کې نرم چلن ښکاري؛ خو حقیقت تر هر څه لوړ دی. د جیم په شرکت کې غرور نه زغمل کېږي؛ خو د شایسته گۍ تمه له هر چا کېږي. جیم وایي:(( زموږ پالیسي د لټانو، منځنیو او تکړه کسانو لپاره نه دي، موږ تمه لرو او سیالي کوو؛ خو موږ خلک هسې بې ځایه نه گرځوو.)) (١٨)
ما له جیم نه له خلکو سره د زرین قانون پر اساس د چلن د گټو پوښتنه وکړه، هغه راته وویل:((د ملموسو گټو، گټورتیا لړه وي. که ډېره هم شي دا به وي چې په چاپېریال کې به د ځورونې مسایل لږ وي. خو ناملموسې گټې دا دي چې تاسو خپل ښه کارکوونکي وساتئ، نوي رهبران درسره پاتې شي او خلک په داسې چاپېریال کې وده او پرمختگ وکړي چې پکې ونه ځپل شي. په داسې حالت کې تاسو مطلوبه او په لوړه کچه وده کوئ... . بیا چې وگورئ چې گردچاپېره خلک مو وده او پرمختگ کوي، نو تاسو به ډېر زیات خوند ترې اخلئ. دا د نورو خلکو هڅول دي. په خلکو کې بیا د نورو خلکو په څېر د موخو ترلاسه کولو شوق او لیوالتیا پیدا کېږي. د زرین قانون تعقیب گټه-گټه ده.))
دا واقعاً د ټولو په گټه ده! زرین قانون کارکوونکو ته ښه دی. مراجعینو ته ښه دی. پانگوالو ته ښه دی. د رابینسون- همپري شرکت په وینا:((سینووس شرکت چې په تېرو شلو کلو کې د نیویارک د ونډو په بازار کې کومه پانگونه کړې ده، دویمه درجه لوړه گټه یې پکې کړې ده.)) ٢٠ هر څوک د داسې گټې لیاقت لري. زرین قانون کار کوي او همدا اخلاق دي.

### ٣
### زرین قانون له تاسو پیل کېږي

ما څه وخت مخکې د لیډرشیپ په اړه وینا کړې وه، مشهور لیکوال او ویناوال زیگ زیگلر زما وینا اورېدلې وه او ما ته یې یو لیک لیکلی و. زیگ زما د ډېرو کلونو ملگری دی او ما ته یې تل د رهبرۍ په اړه نظریات او لیدلوري ترلاسه کول خوند راکوي. هغه راته ویلي وو:((موږ د خپل هیواد د تاریخ په لومړیو پېړیو کې ډېر ښه رهبران درلودل، زه فکر کوم لامل یې دا واقعیت دی چې د توماس جیفرسن څېړنیز انسټیټیوټ پر اساس، په کوم وخت کې چې تاسو د خلکو وده یادوئ، هغه وخت په زده کړو کې ٩٠ سلنه ټینگار پر دیني او اخلاقي طبیعت و. له (١٩٥٠ز) راهیسې دا فشار ډېر ټیټ شوی دی او بیخي لږ لیدل کېږي. زه فکر کوم په (١٧٧٦ز) کې چې په درې میلیونه خلکو کې واشنگټن، مډیسون، جیفرسن، هیملټن، ادمس او نور پیدا شوي او اوس چې په (٢٠٠٢ز) کې موږ د هغه وخت د خلکو معادل خلک نه لرو، نو لامل یې همدا دی.)) (١)
زیگ قوي اخلاقي زده کړې وښودې، دا انسان تقویه کوي چې ښه اخلاقي انتخابونه وکړي؛ خو نن سبا چې خلکو داسې یو اساس یا بنسټ موندلی دی، نو پیل به یې څنگه کوي؟ تاسو څنگه د زرین قانون په څېر یو جامع شی خپلولای او د خپل ورځني فکر برخه یې گرځولای شئ؟ زه خو وایم، د پیل تر ټولو ښه لاره یې پر دې فکر کول دي چې تاسو څه غواړئ.
**دوام لري...**

# جین استین

شفیق امیرزی

د جین استین لیکنې د دوو پېړیو په تېرېدو لا هم د نړۍ په تر ټولو ډېرو لوستل شوو او مشهورو اثارو کې راځي. لا هم لوستونکي لري، څېړنې ورباندې کېږي، نقدونه ورباندې روان دي او بالاخره ویلی شو چې د هغه پر اثارو بحثونه تر اوسه پای نه لري. ډېرو لیکوالانو جین استین له شکسپیر سره پرتله کړې ده، دا پخپله ښیي چې هغه څومره مهمه ده او په انگلیسي ادبیاتو کې څومره مهم ځای لري. استین په خپل ژوند کې شپږ ناولونه لیکلي دي. داسې اثار یې پنځولي چې لوستونکی ځان ته راکاږي، په ښکلا او صحنو کې ډوبېږي او له لوستلو خوند اخلي.
استین داسې مهال ژوند کاوه چې د فرانسې او انگلستان تر منځ سره جگړه روانه وه، خو دې جگړې د دغه مشهورې لیکوالې پر اثارو هېڅ راز اغېز نه دی لرلی. استین هېڅ وخت د جگړې په اړه، د خونړي وضعیت په اړه، د سیاسي حاکمیت او نورو ورته مسایلو په اړه څه نه دي لیکلي. په ژوند کې یې ډېرې سختۍ ولیدې. له ډېرو لوړو ژورو تېره شوه، هېڅ وخت یې واده ونه کړ او د عمر ډېره برخه یې د خپلې خور تر څنگ تېره کړه.
جین استین د ١٧٧٥ز کال د ډسمبر په ١٦مه د انگلستان په همشایر ښار کې زیږېدلې ده. نوموړې د خپلې کورنۍ اووم اولاد و. جین تر ځان مشران پنځه وروڼه او یوه خور لرل. د جین پلار جورج استین مذهبي کشیش و. پلار یې زیارکښ سړی و، سره له دې چې د دوی کورنۍ ډېره گڼه وه، خو دې بریالی شوی و چې خپلې کورنۍ ته نسبتاً مناسب مالي وضعیت برابر کړي. دوی په گډه ژوند کاوه، استین د همدې کورنۍ په چاپېریال کې لویېدله. دې له خلکو سره ډېره ناسته ولاړه نه لرله، پخپله یې هم د ځان په اړه ډېر څه نه دي لیکلي، څه چې شته دي لیکوالانو، شنونکو، څېړونکو او پوهانو یې د کتابونو له متنونو را ایستلي دي. تر ډېره یې شته معلومات له لیکونو را اخیستل شوي دي. جین خپلې خور ته لیکونه لېږل او دا لیکونه خوندي شوي دي. دوی دواړو په خپلو کې ډېرې ښې اړیکې لرلې او تل به یې یو بل ته لیکونه استول.
له یو بل سره د دواړو خویندو مینه د دوی له لیکونو ښکاري. دوی له یو بل سره ډېرې نږدې او صمیمي اړیکې لرلې دي. خور یې کاساندرا نومېده. دوی په همشایر کې ژوند کاوه، خو کله یې چې پلار ومړ، نو له دې ښار یې کډه وکړه او څو نورو ښارونو کې وگرځېدل. تر دې چې په پای کې په باث ښار کې هستوگن شول.له همدې امله په دغه ښار کې د جین استین په نامه اوس هم یوه لویه موسسه فعالیت کوي، هر کال په دې ښار کې د نوموړې په نوم مراسم جوړېږي، علمي کنفرانسونه جوړېږي، خلک پکې گډون کوي او د نوموړې د اثارو تر څنگ، پر ډېرو نورو علمي او ادبي مسایلو بحثونه کوي.
استین له ډېر ماشومتوبه له لیکلو او لوستلو سره مینه لرله. ډېر وخت به یې په کور کې شته کتابونه او نور اثار لوستل. پلار یې د نوموړې پر دې استعداد پوه و. پر دې پوهېدلی و چې له لیکوالۍ سره مینه لري، نو ځکه یې د لیکلو ځانگړی بکس ورته ډالۍ کړی و، چې اوس هم د نوموړې په تاریخي کور کې د یوه تاریخي اثر په توگه ساتل شوی دی. دا بکس یې د پلار په سپارښتنه جوړ شوی و، پرانیستل کېدو، چرمي سطحه یې لرله، لیکل ورباندې کېدل، رنگو، قلمونو او پاڼو ته یې ځانگړې ځایونه لرل، استین به هم دا بکس هر ځای ته له ځان سره لېږدولو او ساتلو. له موسیقي ، له هنر، له ښکلا او له طبعیت سره یې مینه لرله.
جین استین د لیکوالۍ ځانگړی سبک لري. هغه په لیکلو کې له داسې طرز کار اخلي، چې نور ورته حیرانېږي، له ورایه ښکاري چې دا سبک د جین دی. هغه ځانگړې لیکنې کولې او انځورونه یې خورا ښایسته او زړه راښکونکي وو. د هغه لیکنې دومره جذابې دي چې لوستونکی د مرکزي کرکټرانو له حالت سره همغږی کوي. یا ان داسې هم کېږي چې ځان د کرکټر پر ځای بولي. هغه سره له دې چې په رومانتیکه توگه خپل کرکټران انځوروي، په ټولنه کې د اصلاح په موخه طنز هم کاروي. په کنایو او پیغورونو هڅه کوي چې ستونزې حل کړي. نوموړې هڅه کوي چې په ټولنه کې د ښځو ونډه ډېره کړي. د ناوړه دودونو پر وړاندې غږ اوچت کړي.
جین او خور یې چې ورو ورو لویېدې، کورنۍ یې پرېکړه وکړه چې پر دوی د کور تر څنگ، له کوره بهر هم زده کړې وکړي. په همدې لړ کې په ١٧٨٣ز کال کې جین او کاسندرا اکسفورډ ته د زده کړو لپاره ولېږل شوې. هلته مېرمن آن کاوېلي د دوی استاده وه او له ځان سره یې ساوتهمپټون ته بوتلې. هلته دواړه خویندې ناروغې شوې او اړ شوې چې بېرته کور ته راستنې شي. ویل کېږي چې جین استین نږدې وه چې د دې ناروغۍ له امله مړه شي، خو وژغورل شوه. بیا یې د نجونو په یوه ښوونځي کې زده کړې پیل کړې. د ښوونځي په کریکولم کې فرانسوي ژبه، ځینې ادبي کتابونه، موسیقي، نڅا، ډرامه او نور هنري مضمونونه شامل وو. دلته تر څه زده کړو او تعلیم وروسته، استین او خور یې اړ شوې چې بېرته کور ته ستنې شي. لامل یې هم دا و چې دلته د دوی فیس لوړ و او دوی یې د پرې کولو وس نه درلود. نو جین او خور یې اړ شوې چې په کور کېنې او هلته شته کتابونه او درسي مواد مطالعه کړي.
جین استین د ښوونځي تر پرېښودو وروسته په کور کې د خپلو وروڼو کتابونه لوستل. پلار یې هم دوی ته تدریس کاوه، په زده کړو کې یې مرستې ورسره کولې. په دې توگه نو د استین هنري ذوق د دوی په کور کې وپالل شو. پلار او وروڼو یې مرسته ورسره کوله.
استین له همدې ځایه لیکل او د لویو اثارو پنځول پیل کړل. څلورویشت کلنه وه چې د خپلو دوو مهمو اثارو د لیکلو لپاره یې طرحه جوړه کړه. د غرور او تعصب او د نورتانگر کلیسا اثارو لپاره یې طرحې جوړې کړې او لیکل یې پیل کړل. هغې څلور نور ناولونه هم ولیکل چې د ژوند پر مهال یې خپاره او چاپ شول. همدا راز یې دوه نور اثار دي چې استین د ناروغۍ له امله د هغو پر تکمیلولو بریالۍ نه شوه او مرگ یې دا اثار نیمگړي کړل. جین هم د نړۍ د سلگونو لیکوالانو په څېر د ژوند په وخت کې د چا په یاد نه وه. خو تر مرگ وروسته یې ډېرو پر اثارو او ژوند ساندې وویلې. کلونه وروسته یې خلک د اثارو پر ارزښت پوه شول. نقادان یې پر اثارو ورمات شول، لیکنې یې ورباندې وکړې، څېړنې پیل شوې او لیکنې یې خلکو ته د اهمیت وړ شوې. د ادبیاتو پوهان او څېړونکي پر دې پوه شول چې استین د نوو اثارو په پنځولو په انگلیسي ادبیاتو کې ډېر څه رامنځ ته کړي دي او انگلیسي ژبې ته یې ډېر څه ورکړي.
د برېتانیا حکومت اوس د جین استین فعالیتونو او کارونو ته د قدر په سترگه گوري. درناوی ورته کوي او هر کال یې په ویاړ کنفرانسونه او نمانځغونډې جوړوي. دغه مراسم جین استین نومېږي او د برېتانیا د حکومت له لوري په رسمي توگه جوړېږي. د نوموړې ډېرې مجسمې په مهمو علمي مرکزونو او ښارونو کې جوړې شوې دي او برېتانویان د قدر په سترگه ورته گوري. د برېتانیا دولت یې پر لس پونډې نوټ باندې انځور هم چاپ کړی دی. یو وخت کې پر دې مسئله اختلاف و، خو د خلکو له پرله پسې غوښتنو وروسته د برېتانیا شاهي کورنۍ اړ شوه چې د چارلز ډاروین پر ځای د لسو پونډو پر نوټ د جین استین انځور ولگوي. دا پرېکړه هم د جین تر مرگ کلونه وروسته وشوه. دا مسئله ښیي چې د جین فعالیتونو او اثارو پر انگلیسي ادبیاتو څومره اغېز لرلی دی او په انگلیسي فرهنگ کې د هغه د پنځونو ارزښت څومره ډېر دی.
د جستین شپږ چاپ شوي ناولونه دي چې په اړه یې لنډې خبرې کوو.
د عقل او احساس کتاب: دا د جین استین لومړنی چاپ شوی ناول دی. په دې ناول کې شخصیتونه یا کرکټر له ټوکو او ټکالو کمه استفاده کوي. دا ناول د دوو متفاوتو خویندو پر ژوند راڅرخي. یوه ډېر زغم لري، خو بله احساساتي او عصباني ده. یو کرکټر یې سره له دې چې بې تفاوته دی، خو له خپلې کورنۍ سره مینه لري. هڅه کوي، کورنۍ یې ښه وي او ارام ژوند ولري. په لنډه توگه ویلی شو چې په دې ناول کې د عقل او احساساتو کشمکش دی. د مینې کیسې، کورنۍ او د ژوند حقیقي اړخونه په داستاني او خوږه ژبه را اخیستل شوي او لیکل شوي دي.
کتاب غرور و تعصب: په دې ناول کې تر ډېره کرکټران شوخۍ کوي. کرکټران له بېلو موقعیتونو سره مخامخ کېږي. په دې ناول کې دا راوړل کېږي چې څنگه الیزابت په شته دودونو او سختیو کې په خپله مینه کې بریالۍ کېږي. څنگه خنډونه له منځه وړي. دا په حقیقت کې د ښځې له دیده د ستونزو او خنډونو د له منځه وړلو کیسه ده. په دې کې هم د ښځینه وو تر منځ ستونزې او پرتلې شته دي. غرور او تعصب په انگلیسي ادبیاتو کې د تر ټولو غوره ښځینه اثر گڼل کېږي.
منسفیلد پارک کتاب: په دې کتاب کې د یوه خجالتي او عاجز بې جرئته ځوان کیسې راغلې دي. دا کرکټر تر ډېره صادق او پر سمه لار روان کرکټر دی. دا د استین تر ټولو غملړلی یا له خفگان ډک اثر گڼل کېږي. خو سره له دې هم د طنز او ټوکو ځینې برخې لري. په دې کتاب کې د وفادارۍ، صداقت او اخلاص انځورونه شوې ده.
اېما کتاب: دا د استین تر ټولو مهم او پوخ اثر گڼل کېږي. دا کتاب په لومړي سر کې په ټوکو او ټکالو پیلېږي. د جین د طنزي ژبې هنر او اوج په دې اثر کې لیدلی شو. دا کتاب د ډول ډول څېزونو او سبکونو له امله د ادبیاتو مینه والو ته ډېر خاص دی او مینه ورسره لري. دا په انگلستان کې د ښځینه وو پر احساساتو او عاطفي وضعیت باندې بحث کوي. د دوی حالت او رواني وضعیت یې انځور کړی دی.
مخکې مو هم وویل چې استین په ځوانۍ کې د ناول لیکل پیل کړل. هغه نه یوازې ناولونه لیکل، بلکې تر هغه وړاندې یې د خپلې کورنۍ د سرگرمۍ او خوشالۍ لپاره هم لیکنې کولې. د ژوند په وخت کې یې ډېرو کمو کسانو د دې په اړه معلومات لرل. هغه خپل څلورم ناول په ٤١ کلنۍ کې چاپ کړ. دوه نور ناولونه یې تر مرگ وروسته چاپ شول. اووم او اتم ناول یې هېڅ وخت بشپړ نه شول. ویل کېږي چې هغه ناڅاپه ناروغه شوه او په ٤١ کلنۍ کې مړه شوه، خو لا هم دا خبره دقیقه شوې نه ده. لا هم نه ده معلومه چې جین ولې مړه شوه او د مرگ اصلي لامل یې څه و؟ هغه د ١٨١٧ز کال د جون په ١٨مه د شپږو مکملو ناولونو تر لیکلو وروسته له دې نړۍ لاړه. هغه لاړه خو په نړیوال ادب کې یې ځلانده نوم پرېښود، چې برېتانیا ته ویاړ بلل کېږي.



همیانی

# کرونا څه ډول ویروس دی؟

ژباړه: نسیمه محمدي

کرونا د یو ډول ویروس نوم دی، چې په چین کې خپور شوی او لا د پراختیا په حال کې دی.

د شفا آنلاین راپورونو پر اساس، کرونا د ویروسونو یو ډول دی، چې د پوزې، سینوز او یا هم د ستوني پورتنۍ برخه کې د انتان سبب گرځي. کرونا نوم د دې ویروس له جوړښت څخه اخیستل شوی، مېکروسکوپي انځورونو کې د سپوږمۍ حلقې ته ورته بڼه لري.

دا ناروغي د لومړي ځل لپاره د ۲۰۱۹ ز کال د ډسمبر په وروستیو کې د چین له ووهان ښاره راپور ورکړل شو او په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی. وروسته د مسافرینو په واسطه نورو هېوادونو لکه امریکا او په ټوله نړۍ کې خپور شو. تر اوسه په زرگونو وگړي پرې مبتلا شوي دي.

کرونا د لومړي ځل لپاره د چین د طبي پوهنتون ویروس پېژندونکي استاد لئو پون له لوري وپېژندل شو. نوموړی په احتمال سره وایي، کرونا لومړی د یوه حیوان په وجود کې جوړ او وروسته د انسان په وجود کې وده موندلې او د نادره مواردو څخه دی، چې د زوتونیک په نوم یادېږي؛ دا اصطلاح هغه ناروغیو ته چې له حیوان څخه انسان ته سرایت کوي، اتلاقېږي.

د پون د څرگندونو په اساس، کرونا د پونوموني لامل او له انتي بیوتیک سره ځواب نه وایي. تر اوسه لا څرگنده نه ده چې کرونا تر کومې کچې وژونکې کېدای شي.

بستري ناروغان، کارگران، د سمندري خوړو عمده پلورنځیو مشتریان، د دې ناروغۍ لومړي انتقالوونکي دي. د ژوندیو حیواناتو غوښې لکه چرگانو، پسه، خوگ، اوښ، گیدړ، بامبو موږکانو او خزنده ټول د دې ویروس د منبع په توگه یاد شوي.

**د کرونا علایم**

دا ویروس د تنفسي سیستم له کم بیا تر متوسطو ستونزو لکه زکام لامل کېږي. نښې یې ټوخی، د ستوني درد، د پوزې اوبه، احتمالاً سر درد او تبه ده، چې تر دوو ورځو دوام کوي.

زاړه او تنکي ځوانان چې ټیټ معافیتي سیستم لري، د جدي ستونزو لکه ذات الریه یا برونشیت لامل گرځي.

MERS د تنفسي سیستم پېژندل شوی سندروم دی، چې په لومړي ځل په ۲۰۱۲ ز کال کې، په منځنی ختیځ کې څرگند او د تنفسي ستونزو لامل کېده؛ د CDC پر بنسټ، په MERS ویروس له هرو لسو اخته وگړو، درې تر څلورو تنو یې خپل ژوند له لاسه ورکاوه.

اوس داسې گومان کېږي چې کرونا د علایمو له پلوه له MERS او SARS ضعیفه او لږه ده.

د آکسفورډ نړیوال پوهنتون د انتاني ناروغیو استاد، پیټر هوربي وایي: «اوس ناروغان یوه اونۍ کم ټوخی او ورپسې نفس تنگي تجربه کوي او وروسته تر دې ۱۵ تر ۲۰ سلنه شدیدو مواردو روغتونونو ته د مراجعې اړتیا درلوده.»

**سرایت**

دا ویروسونه له حیواناتو سره د تماس له لارې انتقالېږي. د روغتیا نړیوال سازمان د پوهانو په خبره، MERS له اوښانو او SARS له پیشوگانو څخه پیل شوی، خو د کرونا په اړه تر اوسه څرگنده نه ده، چې کوم څاروي او ژوي په ووهان کې د خپرېدو لامل شوي، همداسې له انسان څخه بل انسان ته لېږدېدل هغه وخت چې د اخته کس د ټوخي پر وړاندې وي، تر سره کېږي.

**د کرونا وایروس شکل**

ټوخی، پرنجی او د لاسونو لړزه هم د دې ویروس له مشخصو علایمو څخه دي. د ناروغ له وسایلو سره تماس، د روغتیایي کارکونکو له لوري د ناروغانو د منتن وسایلو او کثافاتو ټولول د سرایت له ډولونو دي. له ناروغ انسان روغ انسان ته لېږد هم تایید شوی دی. دا چې کوم وگړي ډېر د دې ویروس له گواښ سره مخ دي، په ټولنه کې او یا هم په روغتونو کې ناروغان، څېړونکي یې د پوهېدو هڅه کوي. همدارنگه SARS او MERS په زرو خلکو کې د کرونا په پرتله د سختو ناروغیو باعث کېږي او په منځنۍ توگه ناروغان یې له خلوېښت کلنۍ پورته دي.

**درملنه**

خاصه درملنه نشته، خو څېړنې رواني دي. ډېری وخت علایم په خپله لمنځه ځي، روغتیا پالان هم سپارښتنه کوي چې په دې اړه باید اړین مراقبت تر سره شي. که علایم له ذکام ډېر شدید حالت ته لاړ شي، نو حتماً روغتیا پال ته مراجعه وکړئ. د درد او تبې له درملو سره علایم تسکین مومي.

له بخار یا گرمو اوبو سره حمام، د ستوني درد یا ټوخی له آرامېدو سره مرسته کوي. د زیاتو مایعاتو څښل، استراحت او کافي خوب هم د دې ویروس په درملنه کې گټور تمامېږي.

**آیا دا ویروس د اندېښنې وړ دی؟**

د لندن د امپریال کالج د چاپېریال پېژندنې استاد، نیل فرگوسن د وینا مطابق، د کرونا ویروس د مړو شمېر د MERS او SARS په پرتله لږ دی، مگر لا هم له اسپانیایي انفلونزا سره د پرتلې او د نړۍ په سطحه د اندېښنې وړ دی. نوموړی معتقد دی چې کېدای شي د مړینې اندازه زیاته نه وي، خو نوي ویروسونه ډېر ژر او په چټکۍ د خلکو تر منځ خپرېږي.

**د مخنیوي لارې چارې**

د ویروسونو د دې کورنۍ پر وړاندې د مخنیوي لپاره واکسین نشته. د MERS ویروس پر وړاندې واکسین د آزمایښت په حال کې دی. د امریکا د روغتیا ملي انستېټوټ د کرونا ویروس ضد واکسین پر جوړولو کار کوي، مگر میاشتې وخت نیسي، څو کلینیکي څېړنې تر سره او تر یو کال وخت به وغواړي، چې بازار ته راشي.

له ناروغه وگړو څخه لرېوالی پر ویروس د اخته کېدو خطر کموي. روغتیا پالان د سترگو، پوزې او خولې څخه د لاسونه لرې ساتل. حد اقل د ۲۰ ثانیو لپاره په اوبو او صابون د لاسونو وینځل، د ویروس د مخنیوي لپاره توصیه کوي.

که ناروغ یاستی او فکر کوی چې لامل یې کرونا ده، ژر د درملنې لپاره صحي مرکز ته لاړ شئ. د ټوخي او پرنجي په وخت خوله او پوزه په دستمال وپوښئ، هغه لوښي او سطحې چې لمس کوی، تعقیم کړئ او که چین ته سفر کوی، له علایمو باید خبر او د څارویو بازار ووهان هغه ځای چې دا ویروس ترې خپور شوی، له ورتگه ډډه وکړئ.

## د بشري حقونو سازمان: افغان حکومت تر اوسه د ملکیانو د مرگ ژوبلې قضیو ته رسېدنه نه ده کړې

د بشري حقونو سازمان وېلي، حکومت تر اوسه د ملکي کسانو د مرگ ژوبلې قضیو ته رسېدنه نه ده کړې.

یاد سازمان وېلي، د جگړې ښکېل لوري د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره د ملکي خلکو ژوند ته پام نه کوي.

د دغه سازمان رییس لعل گل لعل ازادي راډیو ته وېلي، د ملکي کسانو د مرگ ژوبلې عاملینو ته سزا نه ورکول کېږي او همدا دلیل دی چې ورځ تر بلې د ملکیانو مرگ ژوبله زیاتېږي.

هغه زیاته کړې: «له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې تر ننه، د ملکي کسانو د مرگ ژوبلې یوه عامل ته هم، هغه که دولت پلوه قواوې دي، هغه که مخالفین دي او یا هم بهرنۍ قواوې، یوه ته یې هم سزا نه ده ورکړل شوې. همدا علت دی چې ورځ تر بلې د ملکي تلفاتو شمېر ډېرېږي، ځکه د پوښتنې څوک نشته.»



د ملکیانو د مرگ ژوبلې په تړاو دا اندېښنې داسې مهال مطرح کېږي چې د شنبې په ماښام د بلخ ولایت د بلخ ولسوالۍ په بوکې کلي کې د حکومت پلوه ځواکونو په هوایي بمبارد کې د یوې کورنۍ اووه غړي ووژل شول.

په ورته وخت کې دفاع وزارت وېلي چې د دې پېښې د څېړنې لپاره یې یو پلاوی ټاکلی چې بلخ ته رسېدلی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان راپور ښیي چې په ۲۰۱۹ ز کال کې په لومړیو نهو میاشتو کې په افغانستان کې د جگړې د ښکېلو غاړو له خوا له ۸۰۰۰ زیاتو ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

په راپور کې راغلي، د ۲۰۱۹ ز کال په لومړیو ۹ میاشتو کې د افغان او امریکایي ځواکونو په هوایي بریدونو کې ۱۰۰۰ تنه ملکیان وژل شوي چې له ۱۰۰ ډېر یې ماشومان دي. د بشري حقونو د څار د نړیوال سازمان د اسیا څانگې مسوولې پیټریشیا گاسمن وېلي چې په افغانستان کې د جگړو ټولو ښکېلو لوریو اصولو ته پام نه دی کړی دی او دا کار د ملکي تلفاتو د زیاتېدو لامل شوی دی.

## اروپایي ټولنه: که حکومت د فساد ضد اقدامات ونه کړي، نړیوال مالي ملاتړي به له لاسه ورکړي

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د حکومت پر اقداماتو د امریکایي چارواکو له نیوکو سره هممهاله، اروپایي ټولنې چې د افغان حکومت مهم مالي ملاتړی بنسټ بلل کېږي، د ملي یووالي حکومت ته خبرداری ورکړی دی.

په کابل کې د اروپایي ټولنې استازولۍ د شفافیت نړیوال سازمان وروستي راپور ته په اشارې وېلي، چې که افغان حکومت د اداري فساد پر ضد کوټلي گامونه پورته نه کړي، ممکن خپل نړیوال مالي ملاتړي له لاسه ورکړي.

یادې ادارې وېلي: «د شفافیت نړیوال سازمان د تازه شاخص پر اساس، افغانستان په ۲۰۱۹ ز کال کې بیا هم د نړۍ د مفسدو هېوادونو په کتار کې دی، راتلونکی دولت باید د فساد ضد مبارزې په برخه کې جدي اقدامات وکړي؛ ځکه ممکن خپل نړیوال ملاتړي له لاسه ورکړي.»



په ورته وخت کې شنونکي بیا وایي، د فساد پر ضد د حکومت د پخو اقداماتو له امله نړیوال مرستندویان بې باوره شوي او په دې برخه کې د جدي اقداماتو غوښتنه کوي.

د افغانستان د روڼتیا څار بنسټ هم وېلي، د فساد پر ضد د حکومت مبارزه تر ډېره نمایشي وه او د فساد سترې دوسیې لاهم نه دي سپړل شوې.

خو لویه څارنوالي د فساد پر ضد د عدلي او قضایي مرکز ایجادول له دې پدیدې سره د مبارزې مثال بولي او وایي، حکومت د اداري فساد پر ضد مبارزې په برخه کې جدي اقدامات تر سره کړي.

د یادونې ده چې د شفافیت نړیوال سازمان د وروستۍ درجه بندۍ پر اساس، افغان دولت لاهم د نړۍ د هغو هېوادونو په کتار کې اتم ځای لري، چې د اداري فساد کچه پکې لوړه ده.

### اقتصاد

**د اسعارو بیې**

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦،٧٠ |
| € | ٨٤،٧٠ |
| Rp. | ٤٨٦ |
| ₹ | ١٠٨٠ |
| ¥ | ١١،١٠ |
| £ | ٩٩،٣٠ |

**پروازونه**

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

**بیړنۍ شمېرې**

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې اتمه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۲۸مه | ۵۰٤مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | ۸ | ۱۰ | ۸ | ۱٦ | ۱۳ |
| -۱۰ | -٤ | -۲ | -۲ | ٤ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۸ | لمر ختل ۰٦:۵۵ | ماسپښین ۱۲:۰۷ | مازیگر ۰۲:۵۷ | ماښام ۰۵:۱۸ | ماخوستن ۰٦:٤۵


## نړۍ



# چینايي چارواکي: د کرونا ویروس په دغه هېواد کې په چټکۍ د پراخېدو په حال کې دی

۳

## متحده ایالتونه: بغداد دې په عراق کې د امریکا ډیپلوماټیک تاسیسات وساتي



په بغداد کې د امریکا پر سفارت باندې تر راکیټي برید وروسته، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له عراقه غوښتي چې خپلو ژمنو ته پام وکړي او د امریکا ډیپلوماټیک تاسیسات وساتي.

دا په داسې حال کې ده چې امریکایي پوځیانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې ورمه ورځ پنځه روسي کاتیوشا توغندي د بغداد پر گرین زون چې د امریکا سفارت هم پکې موقعیت لري، توغول شوي دي.

اسوشیټېډپرېس اژانس په بغداد کې د امریکا د سفارت د دوو کارکوونکو له قوله ویلي چې یو راکیټ د سفارت په ساحه کې د ننه پر یو رستورانټ لگېدلی چې پکې د سفارت یو کارکوونکی ټپي شوی دی.

د سفارت دغو دوو کارکوونکو چې نه یې غوښتل نومونه یې یاد شي، د خپل ټپي شوي همکار د هویت په اړه او دا چې هغه څومره ټپي شوی، جزیات نه دي ورکړي.

په ورته وخت کې د عراق لومړي وزیر عادل عبدالمهدي د دغو بریدونو د غندنې تر څنگ ویلي، چې د عراق حکومت په دغه هېواد کې د ډیپلوماټیکو ماموریتونو ساتنې ته ژمن دی.

په ورته وخت کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د ۲۰۱۹ ز کال له سپټمبر راهیسې تر اوسه په عراق کې پر امریکایي اهدافو باندې د ایراني ملېشو او یا د هغو ملېشو له خوا چې ایران یې ملاتړ کوي، ۱۴ بریدونه شوي دي.

## چارواکي: په ترکیه کې د وروستۍ زلزلې د قربانیانو شمېر ۳۱ ته لوړ شوی دی

ترکي چارواکو ویلي چې په دغه هېواد کې د وروستۍ زورورې زلزلې د قربانیانو شمېر ۳۱ ته لوړ شوی دی.

چارواکو دغه راز ویلي چې د الازیغ ولایت سیوریچې ښار ته څېرمه او په مالاتیا ولایت کې د تېرې جمعې د ورځې په زلزله کې چې شدت یې د ریښتر په حساب د ٦،۵ او ٦،۸ ترمنځ اټکل شوی، له ۱٦۰۰ زیات کسان هم ټپیان شوي دي.

د ژغورنې ډلې لاهم د دې زلزلې له کبله د ویجاړو ودانیو په کنډوالو کې مړي او ټپیان لټولي او دغه عملیات یې تر اوسه پای ته نه دي رسېدلي.

د بهرنیو چارو چارواکو ویلي چې په دې زلزله کې نږدې ۸۰ ودانۍ نړېدلې او ٦۴۵ نورې سختې زیانمنې شوې دي.

د ترکیې ولسمشر خلکو ته په وینا کې ویلي، هغه تبلیغاتو ته دې پام نه کوي چې گڼې حکومت د زلزلې له قربانیانو سره مرستې ته لازم چمتووالی نه درلود.

رجب طیب اردوغان د دغه ډول منفي تبلیغاتو په خاطر خبرداری ورکړی او له خلکو یې غوښتي چې اوازو او منفي تبلیغاتو ته دې غوږ نه نیسي.

## کمیسیون مبارزه با آلودگی هوا: در یک ماه گذشته ده ها هوتل، حمام و رستورانت ها مسدود شده است




کمیسیون مبارزه با آلودگی هوا در شهر کابل، در حدود یک ماه گذشته ده ها هوتل، حمام، رستورانت و داش خشت پزی را که از مواد سوخت غیرمعیاری استفاده می نمودند، مسدود کرده است.

این در حالیست که حکومت افغانستان، حدود یک ماه پیش، پس از افزایش شکایت ها از آلودگی هوا در کابل، برای مبارزه با آلودگی هوا، کمیسیونی متشکل از ادارۀ ملی حفاظت از محیط زیست، وزارت داخله، شاروالی کابل را تشکیل داد و این کمیسیون دست به برخی اقدامات زد.

این کمیسیون، مواد سوخت غیرمعیاری چون زغال سنگ، رابر و پلاستیک، ترانسپورت نامنظم شهری با موترهای کهنه، کیفیت پایین تیل، استفاده نکردن از دستگاه‌های تصفیه دود در فعالیت های دودزا، خامه بودن سرک ها و کوچه ها را از مهم‌ترین عوامل آلودگی هوا در شهر کابل می داند.


شاه زمان میوندی رئیس اداره ملی حفاظت از محیط زیست، در نشستی که دیروز به اشتراک اعضای کمیسیون عالی مبارزه با آلودگی هوا در کابل برگزار شد، گفت که در جریان یک ماه گذشته، ۴۱٦ محل آلوده کننده هوا در شهر کابل، زیر نظارت قرار گرفته است.

او افزود که در این مدت ۱۳٦ حمام، هوتل، ریگریشن و غیره را به دلیل استفاده از مواد سوخت غیرمعیاری مسدود کرده اند.

میوندی گفت که ۱۵۸۴ عراده موتر در شهر کابل، تخلفات محیط زیستی داشتند و از این میان، ۳۹۸ عراده موتر دودزا، متوقف شده است.

## ژوند

## د موخې روښانه کولو گټې څه دي؟





کله چې تاسو په دې هڅه کې وی، چې غواړی خپلو غوښتنو ته ورسېږی، نور نو هغه څه ته ارزښت نه ورکوی، چې بې له کومې اړتیا یې ستاسو وخت ضایع کاوه او انرژي مو یې بې ځایه مصرفوله، دا هر څه خپل رنگ له لاسه ورکوي. یوازې د هغه څه په اړه به فکر کوی، چې ستاسو په ژوند کې کلیدي رول لري. تاسو به بیا په همدې اړه فکر کوی او داسې لارې چارې به گوری، چې څنگه وکولای شی موخې ته د رسېدو چاره مو نوره هم گړندۍ کړی.

کله چې غواړی چېرته ورسېږی، د رسېدو لپاره ورته تر ټولو ښه او پر ځای تصمیم نیسی. دغه تصمیم کار او ځای ته په کتو مو خپلې موخې ته اهمیت ورکوي، درجه بندي کوی یې او بالاخره پرېکړه کوی.

دې ته په کتو سره چې موخه مو څه ده، په کار لاس پورې کوی او اجازه نه ورکوی چې بې ځایه او بې مانا فکرونه مو ذهن گډوډ کړي. کولای شی په ډېر کم وخت کې ډېر لوی کارونه تر سره کړی او موخې ته مو ځان ورسوی.

## واده کول مو له ناروغیو ژغوري



دا خو مو اورېدلي چې واده کول د سړي ایمان بشپړوي، خو اوس تازه څېړنو ښودلې چې واده کول انسان له بېلابېلو ناروغیو هم ژغورلی شي. زموږ په ټولنه کې د واده په اړه یو ناسم ذهنیت عام شوی دی. ځینې فکر کوي چې له واده کولو وروسته د نارینه مسوولیتونه ډېرېږي چې ممکن د هغه لپاره یو درد سر شي او ژوند یې سخت شي؛ خو په امریکا کې یوې تازه تر سره شوې څېړنې ثابته کړې، چې واده شوي کسان تر مجردو کسانو زیات عمر کوي او د ښه صحت خاوند وي. د امریکا د میشن گان پوهنتون څېړونکو ثابته کړې، هغه کسان چې واده یې کړی، د زړه، کنسر او ژور خپگان پر ناروغیو د اخته کېدو احتمال یې کم دی. څېړنه وایي چې واده د نارینه له وخت څخه مخکې مړینې خطر ۸۰ سلنه کموي او د مېرمنو له وخت څخه مخکې د مړینې خطر بیا ورسره ۵۹ سلنه کمېږي. د یادونې وړ ده چې دا تحقیق پر هغو خلکو تر سره شوی، چې له خپل ژوند څخه راضي او له خپل شریک سره خوشاله دي.

خپله سوداگري د عزیزي بانک جاري حساب سره بداېه کړئ
• دغه حساب افراد/ شرکتونه/ دولتي او غیر دولتي انجوگانې او سفارتونه پرانېستلی شي.
• حساب په افغانیو/ امریکایي ډالرو/ یورو او انگلیسي پونډو پرانیستل کیدای شي.
• د پیسو په زیاتولو او ایستلو کوم لگښت نه راځي.
• د هرې راکړې ورکړې (معاملې) خبرتیایي پیغام خدمتونه
• د لویو شرکتونو د حساب لپاره لږ تر لږه 300 امریکایي ډالر/یورو/انگلیسي پونډ/ 10000 افغانۍ او د انفرادي حساب لرونکو لپاره 100 امریکایي ډالر/ 1000 افغانۍ بې له کومه ساتندویه فیس څخه اړینې دي.
د زیاتو معلوماتو په پار، مهرباني وکړئ زموږ تر ټولو نږدې څانگې ته ورشئ او یا موږ سره په 1515 شمیرې اړیکه ونیسئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af